# د عبدالقادر خان شاعرۍ کښې فني خوبۍ

# The Artistic Value in the Poetry of Abdul Qadir Khan Khattak

Ahmad Ali Aajiz [1], Zar Muhammad Sangar [2]

Khushal Khan Khattak and his family is well known for the contribution in Pashto Language and literature one of his sons Abdul Qadir Khan Khattak has numerous contribution as for as mysticism is concerned Abdul Qadir Khan was born in 1061 Hijri at Akora Khattak in this paper has contribution in the field mysticism has been highlighted and also romantic.

هرکله چې مونږ د پښتو نثر او نظم تاریخ باندے نظر اچو نو دا خبره به ډاګیزه شي چې کله مونږ د نثر او نظم دریم دور چې ورته عام طور باندې سنهره دور وئیلې شي. هغه دور چې د خان علین مقام د خاندان غړي پکښې لکه د نمر ځلیږي ځکه چې د دوي نه مخکښې پښتو ادب کښې زیاتره خلقو په خپل لیکلو کښې د عربۍ او فارسۍ بې دریغه الفاظ استعمال کړي. بلکې په ځنې ځنې لیکنو کښې دومره زیات شوے دے چې هغه داسې لګي چې بنده عربي یا فارسي لولي. ولې خان د علیین مکان په دور کښې نه صرف د الفاظ نه صرف د نشت برابر دي بلکې بقول د مولانا عبدالقادر مرحوم چې د خان د کورنۍ په پښتو ډیر لوے احسان دے کله چې څوک د هغوي لیکونه لولي خواه که هغه نثر دے او که نظم بنده ئې داسې محسوسوي لکه چې څوک په حجره کښې ناست وي او چاسره په خوند خوند خبرې کوي. د خان په اولاد او خاندان کښې ډیر داوچتې پائې شاعران او ادیبان تیر شوي دي چې هغوي د خپل ذهانت او علمي استداد په برکت به ګرده نړۍ کښې پیږندے شي. په دې کښې یو نوم د خان عبدالقادر خان خټک هم دے چا چې نه صرف په نثر کښې کارنامې کړې بلکې چې څوک د هغوي دیوان یو ځل په لاس واخلي نو زما یقین نه دے چې تر ختمېدو بیا د لاس نه اخوا کړي.

---

1 Assistant Professor Department of Pashto UOP

2 Lecturer in Pashto, Islamia College Peshawar.

هغوي لکه د نورو کلاسيکي شاعرانو په شاعرۍ کښې خوند شائستګي، استعارې کنايې تشبيهات باريک بيني. او صنعت ګري دلوستو قابل دي. شعر د کېفياتو، مشاهداتو، احساساتو او قلبي وارداتو په ښکلي او اثرناکه طريقه د اظهار نوم دے. چې د شاعرانه او تخيلانه قوت او قدرت په امتياز د يو بل نه ښۀ او ډېر ښۀ کېدے شي.

چې کوم فطري شاعر وي او ژورې مطالعې او مشاهدې قوت څښتن وي. د هغه په شاعري کښې ژور معنوي خصوصيات څرګندوي. او په شعرونو کښې د هر شاعر د استاذۍ مطابق داوچتو خيالاتو نه علاوه معنوي صنعتونه او لفظي صنعتونه هم په فراخه توګه ملاوېږي. چې د يو شاعر د خصوصي پوهې او فني استاذې اظهار ترې کېږي. لکه چې اوئيلے شو د عبدالقادر خان خټک هم يو لوے او پوهٔ شاعرو په فن ئې پوره قدرت لرلو. په دې سبب د هغه په شاعرۍ کښې د اوچتو خيالتو ژورې مشاهدې او لوړ تخيل سره ئې په شاعري کښې بې شمېره خوبۍ په نظر رائحي. رائحۀ چې اوس د هغه په شاعرۍ کښې د فني خصوصياتو خوبيو په خوند او ښکلا ښائسته شعرونه په ګوته کړو. هغه اصناف چې عام و ګړي پرې ډېر کم پوهېږي د هغه صنعتونه او محاسن د کلاسيکي شاعرانو په شاعري کښې عام طور ليدې شي ولې د نا پوهې او کم علمي په وجه پرې ډېر خلق نه پوهېږي ځکه مونږ د هغوي شاعري نه په خصوصي توګه هغه صنعتونه رااخلو چې د عام اولس د علم او پوهې نه باهر دي.

## صنعت تعليل

دا يو ښکلے او زړۀ راښکونکے صنعت دے. شاعر يو داسې سبب د يو څيز د پاره فرض کوي چې هغه په اصل کښې حقيقت نه وي خو شاعرورله فرضي علت ګرځولے وي. لکه د عبدالقادر خان خټک په دې شعرونو کښې مونږ وينو.

مياشت وريځ د مخ نقاب کا
چې په مخ شو برابر ستا

ګل له شرمه خولے پرېږدي
چې په مخ شي برابر ستا(۱)

اول شعر کښې اصل کښې میاشت په وریځ کښې پټېدل خو د اشنا د مخ په وجه نه دي خو شاعرورله دا سبب فرض ګرځولے دے. او په دوېم شعر کښې ګل د پرخې په وجه لوند وي. خو شاعروائي چې دا ستا مخ ئې اولیدو اوته چمن ته راغلې نو ګل د شرمه خولې شو. او په دې شعرونو کښې هم دغه صنعت راوړلے شوے دے.

چې صبا به له مجلسه جدا کېږی
شمع څکه درست شپه د سوز ژړا کا(۲)

## صنعت تضاد یا صنعت طباق

دې شعرونو کښې عبدالقادر خان د صنعت طباق راؤړلے دے. د اکثر شاعرانو په شعرونو کښې فراخه موندلے کېږي.د عبدالقادر خان په دې شعرونو کښې دا صنعت او ګورئ چې د شعرونو ښکلائې پرې زیاته کړې ده. بلکې ده نورو شاعرانو نه ئې منفرد انداز کښې بیان کړې چې ستائیلو قابل دے.

چې په اصل بوټے تریخ وي خوږ به نشي
د اوبو په ځاے که توئ شهد اوره کا
د خندا طالب د تل په ورت ورت ژاړي
چې وژاړي نو خندا هله یاسمین کا
د وصال په دولت ناسته غافل مه شه
جدائي د واصلانو ته سمن کا
سپین ویښته د بدنامي په وسمه تور کا
چې آرزو د صفا رویو د وصال کا(۳)

## صنعت سیاق الاعداد

په کلام کښې (په معنوی انداز) د عددونو ذکر کولو ته صنعت سیاق الاعداد وائي. لکه دې شعر کښې.

که سرې په اصل یو دي فرق ئې ډېر دے
یو په یو وي یو په سله یو په زره (۴)

## صنعت مخاطبه

اکثر شاعران په غزل کښې ځان ته مخاطبه کوي. دا په مطلع کښې هم کېدے شي او په مقطع کښې هم چې ورته صنعت مخاطبه وائي.

که طلب د کیمیا ګرې ګوندی بیا مومي
په دا وخت عبدالقادره رشتیا نشته

او په دې شعر کښې هم:

ځان هاله عبدالقادره چې جانان وي
په صورت باندې ځان بار چې جانان نشته(۵)

## صنعت جمع

د غزل یا نظم اولنے شعر په داسې تاثیر ناکه الفاظو او ښکلې توګه وړاندې کول. چې اوریدونکي یا لوستونکي جذبات د نور غزل اوریدوته را او پاروي. دې ته حسنِ مطلع وئیلے شي.

دعبدالقادر خان دا مطلعې ددې صنعتو نو نمونې دي.

په ګلونو اواز رو او کړه بلبله!
پرېشانېږي ستاله شور او له غلغله

یادا:

چې منظور د یار صفا جبین لرم
زړه په داله نیک و بده سپین لرم (۶)

## حسن مقطع

چې غزل بغېر د څۀ فني خامي او نقصانه په مکمله طریقه یو زور داره او زړه راښکو نکې مقطع باندې ختم شي. دې ته حسن مقطع وائي. لکه د عبدالقادر خان دا مقطعې ئې ښکلې نمونې دي.

بادئې بوئې عبدالقادره سحر راؤړو
شگفته لکه غنچه په دغه باد شوم (۷)

ستا په ځسن قسم خورم پخپله مینه
چې ترځان عبدالقادر مئین په تایم (۸)

که بادشاه که امرا ځان به ئې سیال کړې
چې امید نکړي له چا عبدالقادره

## صنعت مبالغه

په شعر کښې د جانان او محبوب د مبالغې تر حده توصیف او صفت کول. د عبدالقادر خان په دې شعرونو کښې دغه صنعت ډېر په استاذي او شاعرانه کمال سره راوړلے شوےدے. چې د شعرونو خوند او مزه ئې پرې ډېره زیاته شوی ده.

بوئې د مشکو، د عنبر په جهان خور شي
مشاطه ئې چې خواره د سر ویښتۀ کا
جهان څۀ چې آسمانونه به ګډوډ شي
که د ښکلو حال ښکاره ورته زمین کا (۹)

## صنعت تلميح

په شعر کښې خوند پيدا کولو د پاره شاعر يو زړې، تاريخي واقعې ته اشاره کوي او د شعر معني پرې فراخه کوي.د عبدالقادر خان په دې شعرونو کښې صنعت تلميح په خوند رنګ راؤړے دے.

د سليمان تخت چې په بادشه آخر بادشه
په قارون په ژوندون اوشوه تماشا(۱۰)

او دې شعر کښې هم دغه خونده ور صنعت او ګورئ.

په اميدئې د وصال لکه خليل هم
په خندا په خوشحالي په هوس نارته(۱۱)

## صنعت تکرار

په شعر يا کلام کښې دوه ځلې يو ټکے راوړل لکه د عبدالقادر خان په دې شعرونو کښې په ښکلو معنو کښې راغلې دې.

دريغه دريغه چې مې اوليدے يار خپل
چې ښکاره مې کړے وده وته اسرار خپل
سرې سرې اوښکې مې له سترګو په لمن ځې
د يار غمه راشه ګوره لاله زار خپل (۱۲)

او دې شعر کښې هم دغه صنعت دے.

شکر شکر چې لا درد د توبې وادے
د مشرق په لور ختل د افتاب وينم(۱۳)

او په دی ټول غزل کښې ئې صنعت مبالغۀ په ښکلو معنو او ښکلې پيرائې کښې دلوستو دے.

ښکلي مخ ئې میاشت خجله کړه نمر هم لا
قدئې سروه کړه سرکوزه عر عرهم لا
سرو لبانوئې قیمت د لعلو کم کړه
سپینو غاښو ئې بې آب کړه ګوهر هم لا
چې نکهت ئې د یار زلفو نسیم راوړو
مشک خوشبو ئې په هغه بوئې شول غبر هم لا
په مانځه کښې د یار وروځې راپه یاد شوې
د زړه آه مې محراب او سو ممبر هم لا (۱۴)

## صنعت تلمیع

بعضې وخت شاعر په شعر کښې د دوو ژبو استعمال او کړي او په دې طریقه په شعر یا کلام کښې خوند اورنګ پیدا کړي. دې ته صنعت تلمیع وائي.

د عبدالقادر خان په دې شعرونو کښې دا صنعت داسې راغلے دے.

تولا تبرَا طمع ځنې یوړه
عالمان د کافرانو په باب وینم
سامعان ئی آمَنَّا و صدقنَا کا
ستا ګفتار عبدالقادره ثواب وینم (۱۵)

## صنعت تجاهل عارفانه

په شعر یا کلام کښې د یو معلومې خبرې په داسې طریقه اظهار کول لکه چې شاعر ترې نا خبره وي. او په دې طریقه په شعر کښې مزه او خوند پیدا کړي. دې ته صنعت تجاهل عارفانه وائي.د عبدالقادر خان په دې شعر کښې په ښکلي طریقه دا صفت راوړلے شوے دے.

او په اخر کښې به دا خپل بحث د عبدالقادر خان خټک په دې شعر راغونډ کړم چې په کښې دغه صنعت په ډېر ښکلې اور موثره طریقه بیان شوے دے

په سپین مخ باندې ئې خط دے چې ښکارېږي
که ئې شونډوته مېږیو جوړ بهیر کړه (۱۶)

## ماخذونه


۱: حدیقه خټک مرتب سیدانور الحق ناشر یونیورسټی بک ایجنسی پاکستان ایجوکیشنل پریس لاهور، دیوان مخ ۲۴
۲: همدغه بره، دیوان مخ ۴۳
۳: همدغه بره، مخ ۴۷
۴: همدغه بره، مخ ۱۲۴
۵: همدغه بره، مخ ۱۱۴
۶: همدغه بره، مخ ۷۷
۷: همدغه بره، مخ ۸۸
۸: همدغه بره، مخ ۹۷
۹: همدغه بره، مخ ۴۷
۱۰: همدغه بره، مخ ۵۰
۱۱: همدغه بره، مخ ۱۱۲
۱۲: همدغه بره، مخ ۸۲
۱۳: همدغه بره، مخ ۹۵
۱۴: همدغه بره، مخ ۵۲
۱۵: همدغه بره، مخ ۹۵
۱۶: همدغه بره، مخ ۶۴